مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح سعیدی

۲۰۲۵/۰۸/۲۱

# بو پاکستان پالونکي ته!

د اوسني پاکستان مېشت میلیونو پاکستان مېشتو چې نه پاکستان مني او نه یې بېرق، بو کس له نامه نه پښتون!؟ لیکلي چې پاکستان زما ملک او د پنجاب بیرق ته زندا باد وایم !
زه ورته لیکم: د هرچاخوښه چې څه ته مرده باد او څه ته زندا باد وایي خو :
ستا ملک او وطن هندوستان او ستا باني د نن پاکستان علامه اقبال وایي
ساري دنیا سي اچها هندوستان همارا !
( له ټولي دنیا بهتر زما هندوستان دی...)!
ستا وطن پښتونخوا، ستا وطن افغانستان، ستا وطن بلوچستان ستا وطن لاهور دی! ستا دغه اصلي وطن زندا باد !
هو او ستا )پنجابي)، وطن او ملک پنجاب دی!

تر ۱۹۴۷ کاله پوري د نن سیاسی ، غیر مشروع پاکستان له څلورو حصو ۳ حصي افغانستان وو او دی !
پیښاور او نږدې سیمي له افغانستانه په زور د پنجاب حاکم رنجیت سنګ نیولي وې چې د انګلیس د تسلط سره پر رنجیت سنګ دغو سیمو باندې د انګلیس قبضه وه او افغان شاهانو تر فشار لاندې که سره یې پرې قبضه نه وه، انګلیس ته پرېښودې !
د وقت د انګلیس اولین سفیر، خپل حکومت ته (۱۹۰۵ م. کال ) تلګرافی خپل مرکز ته لیکي: ما خپل سفارتي کاغذات د افغان پادشاه ته د هغه په ژمنی دربار / ارګ پیښور کي ورتقدیم کړل !
کال ۱۹۵۱ م د انګلیس حکومت خپل حقوق دان ته د انګلیس د حکومت لخوا وظیفه ورکړل شوه چې د افغان ۱۹۴۹ م کال د لوی جرګې، هغه فیصله چې د دیورندلاین او ورسره سره ټول افغان انګلیس دولتي او د اشخصاصو سره شوي توافقات لغوه اعلان کړل، نو که د دیورند لاین تر نامه لاندې امضاء نه شوای سند حقوقی، ارزونه وکړي، که کوم عدالت ته قضیه ولاړه شي، نتیجه به یې څه وي؟
د انګلیس د حکومت حقوقدان په خپله حقوقی ارزونه کې خپل حکومت ته ولیکل چې د پاکستان په نامه حاکمیت ملک غیر کي ایجاد شوای او حقوقی بنه نه لري او هرې محکمې کې دا قضیه بایلو !...
دا سند ۵۰ کاله د انکلستان د ملی امنیت د قانون پر بنیاد سري وه او اوس علنی او د انګستان د ماي ارشیف کې رسماً ثبت دی!
د ۱۹۶۸ م. کال د ویانا کنوانسیون ټول هغه اسناد او شوي توافقان ملغا بولي چې د نا مساوي خوا سره شوي!
افغانستان خپل استقلال په کال ۱۹۱۹ کال رسماً تر لاسه کړ
او دا ټولي هڅې د ناروافقاتو د استعمارګر او مستعمرې سره له دغه کلو مخکي شوي!
په مارګلي زمونږ په یاد د افغانستان بیرق ملي زوړند وه !
پښتنه پیغله خپل خاوند ته ټپه کوي: تر مارګلي به در سره بیم - په هندوستان دي خدای مل شه مسافره !
مو نږ په اوسني پاکستان میشتو خلکو ته پوره احترام لرو، تعصب حرام او له آمو تر أباسینه، بوه خاوره او بوه وینه بولو !
مو د اوسني پاکستان پر خلکو مرګ ویل حرام او ناروا بولو !
زمونږ اعتراض او غندنه په پاکستان کې پر هغه نظامیانو او ای اس ده، چې ددې سیمي عزت او ناموس باندي تجاوز کوي او حتی پښتني با عزت جنکي او ښځې یې په چینایانو او فاحشه خانو خرڅې او په لسهاو زره مظلوم انسانان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

يي لاپتا او د هغه بيرغ لاندې دا كوي چي نن ته ورته زندا باد ويل غواړې! دا جاهلانه او احساساتی اويا خاينامه ، د شرم او تأسف ځای او خبر ده !
خپل ملک پاکستان ګڼل ستره تېروتنه او ستره بې انصافی ده !
ستا ملک او وطن پښتونخوا ده. د جابر او قاتل حاکميت ته خپل حاکميت او خپل وطن واياست؟
د پاکستان د جابر، ظالم او قاتل نظاميانو او تروريستانو بيرق نه ستا دی او نه دااحمقانه خبر کول په کار ده! را غوزار يي کړه او سر ورته مه ټيټوی !
که سر دي بيا هم خلاص نه شو را زنګ شه !
داکتر صلاح سعيدی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ